مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۶/۱۵

# نړی سپوږ نه وهي

ویره خپریږي نړی سپوږ نه وهي
ده نړیدونکو بوړبکیو پر کنډو ولاړه
د پسرلي له زړه، عطرینو ځپو وړم تللی
باروتو بوی ترینه جاپیر دی، فضا سوې سوکړه
د شپې تیاره شوه بوګنونکي
او د ژوندون بیړی کې
ساه کاني ډوبې، چاپیریال خپسی
ترینه چاپیره، مینه ناکې سترګې جل وهلي
نازکې هیلي لا غوټۍ نه شې چې وړژیږي
په بشري حس کې بیا هره هڅه شنډه پاتې
نوې او نوې او بیا نوې بلا وزیږوي
زور ځواک لګیا دی، د ژوند لار شنډوي
د حریصانو ککړی له ظلم زور اخلي
د زور زیاتي کچه ده پورته، دروميي
پر للمه شین نه شو غنم،چې پرې باران اندېر شو
میني له زړونو ګډه وکړه او ساړه پاتې دي
انسان د ژوند پر اندېښنو ډوب شوی
لیونتوب هم له حد اوښتی، زور واک زور اخلي
د بیوزلی او بدحالی، په حال کې ښکیل شو بنده
دجال راتګ ته لار نږدې، ښکاري
کائینات هک پک، نړی سپوږ نه وهي
کائینات هک پک، نړی سپوږ نه وهي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ